# پښتونخوا- شور او غوغا

م-ر- شفق

زۀ د ګلچين په بدو سترګو کښې ازغے يم ولې؟
خو بس په دې چې مدام خبر د بهارونو غواړم
قلندر مومند

د ۲۲ نومبر ۲۰۰۸ واقعه ده، قامي اسمبلۍ کښې د پښتنو بې نومه صوبې ته د "پښتونخوا" په نوم اخستو يو شور او غوغا جوړه شوه. بيا دغه شور زوړ، دومره زيات شۀ چې سمه خبره هم پکښې نۀ شوه اورېدلې،



داسې حالت هله جوړ شي چې يو سړے په جوش کښې راشي نو هوش ترې لاړ شي او کوم ښاغلي سره چې دليل نۀ وي نو کوتک ته لاس کړي، د صوبې د نوم بدلولو مسئله ښه صفا او ډاګيزه ده. نوم کۀ د انسان وي، کۀ د ځناور وي او کۀ د علاقې د هغۀ د وجود او تشخص، پېژندګلو او شناخت ګڼلے شي. صوبه سرحد (شمال مغربي سرحدي صوبه يا اين ډبليو ايف پي) نوم نۀ دے، خو دا اوس د بحث نه وتلې معامله ده، ځکه چې د خلقو نمائنده صوبائي اسمبلۍ په دې حواله دوه واره قراردادونه پېش کړي دي او په متفقه ډول يا په درونند اکثريت منظور شوي هم دي. هر کله چې په يوه مسئله د قام نمائنده جرګه سګوټه فېصله وکړي نو بيا پکښې د ويتو چيتو حاجت پاتې نۀ شي. په تېره تېره اوسني جمهور رئيس آصف علي زرداري هم تجويز شوي آئيني پېکج کښې د صوبې نوم "پښتونخوا" شامل کړے دے.

د پاکستان باني قائد اعظم محمد علي جناح، په بنيادي توګه د قانون او آئين ماهر سړے ؤ، د هغۀ په زيات شمېر وېناګانو کښې يوه وېنا دا هم ده چې:

"خپلو مقصدونو ته د رسېدو د پاره آئيني لارې چارې پکار راولئ"

اسمبلۍ ته قانون سازه او جمهوري اداره وئيلې شي، په دې کښې د وطن د خلقو نمائندګان ناست وي، خلقو په دې نمائندګانو اعتبار کړے وي او اختيار ئې ورکړے وي نو کله چې دوي يوه غوښتنه وکړي، په متفقه ډول يا په کثرت رائې يو قرارداد منظور کړي، دغه به د خلقو د زړۀ اواز او د

ضمیر فیصله ګڼلې شي او جمهوري رویه دا ده چې د دغه فیصلې پوره په پوره احترام وکړلے شي.

د دې نه پس هم کهٔ څوک اختلاف کوي لکه مسلم لیګ"ق" چې د "پښتونخوا" خلاف خپله جلسه (۲۲ نومبر ۲۰۰۸) کښې قرارداد منظور کړے دے نو د دې ښکاره مطلب دا شهٔ چې د دغه ګوند مشران د "ډب کوټک" سیاست کوي. آئین، قانون او جمهوریت سره کار نهٔ لري.

د اوسني دور پښتانهٔ لارښودان او ملي مشران بیا بیا دا خبره کوي چې کهٔ بې نومه صوبې ته "افغانیه" "پښتونستان" یا "پښتونخوا" ووئیلے شي نو په دې کښې هیڅ نقصان نشته، خو هر کله چې صوبائي اسمبلۍ په دې اړه د "پښتونخوا" قرارداد منظور کړے دے او په ریکارډ پروت دے نو دا بحث ختم شهٔ، چې "دا نوم" یا "هاغه نوم" پکار دے.



ترکومې چې "پاکستان" کښې د صوبې د نوم مسئله ده نو دا خو په جنوري ۱۹۳۳ء کښې فیصله شوې ده. چودري رحمت علي او د هغهٔ ملګرو د مسلمانانو د پاره د جدا مملکت نوم "پاکستان" تجویز کړے ؤ. دهٔ خپل چاپ کړي کتابګي (پمفلټ) "NOW OR NEVER" کښې د "پاکستان" تجزیه او سپیناوے کړے دے چې دا د زیات شمېر مسلمانانو د ابادۍ په پنځو "وحدتونو" مشتمل دے یا په نورو ټکو کښې د "پاکستان" رغونه په دې ډول ده.

پ= پنجاب

ا- افغان صوبه (افغانیه)

ک= کشمیر

س= سندهـ

تان= بلوچستان

چا چې دا نوم تخلیق کړے او تجویز کړے ؤ هم هغوي ئې دغه معني' کړې ده.

چودري رحمت علي او د هغهٔ ملګرو طالب علمانو (په شمول ارواښاد محمد اسلم خان خټک) چې په ۱۹۳۳ء کښې "پاکستان" نوم خوښ کړلو نو د هاغه وخت مسلم لیګي مشرتابهٔ "پاکستان سکیم" سره اتفاق نهٔ کوو، دوي صرف په هندوستان کښې د مسلمانانو د حقونو خبره کوله. په خپله علامه محمد اقبال هم د دغو هلکانو "پاکستان سکیم" سره اړه نهٔ لرله (د دې لیکلے ثبوت د ولي خان کتاب "باچا خان او خدائي خدمتګاري" پاڼو کښې محفوظ دے) بیا د کمال خبره دا ده چې د علامه اقبال خطبهٔ اله اباد کومه چې د پاکستان وړومبۍ تصوراتي خاکه ګڼلې شي. د (Now or Never) نه درې کاله اګاهو مېنځ ته راغلې وه خو کله چې لندن کښې د ګول مېز کانفرنس په موقع چودري رحمت علي او د هغهٔ ملګرو علامه صاحب سره په دې حواله ملاقات وکړو نو علامه اقبال د دغو طالبعلمانو د جوش

جذبې ستائنه وکړه خو ښکاره خبره ده چې د لندن غونډ مېزي کانفرنس کښې علامه اقبال ته د کېمرج د طالب علمانو څخه د دې سبق زده کولو ضرورت نۀ ؤ او هغۀ د هلکانو مطالبه نۀ شوه پېش کولې.

په ۲۳ مارچ ۱۹٤۰ ال انډيا مسلم ليګ د قائداعظم محمد علي جناح، مشرتابۀ کښې په وړومبي ځل د مسلمانانو دپاره د يو جدا مملکت قائمولو غوښتنه وکړه، چرته چې د هندوستان مسلمانان په خپله خوښه د اسلام ديني عقيدې او خپل ثقافت په تابېن د ژوند تېرولو جوګه شي. دغه قرارداد منظور کړے شۀ او په "قرارداد لاهور" مشهور شۀ. مهاتما ګاندي او د کانګرس نورو مشرانو ځوک چې د هندوستان د وېش په حق کښې نۀ وو، "قرارداد لاهور" ته د شک په نظر وکتل او د اعتراض ګوته ئې وځنډوله چې دا خو هم هاغه د کېمرج د هلکانو "پاکستان سکيم دے" د مسلم ليګ مشران چې په دې طنز پېغور تنګ شو نو په ۱۹٤۲ کښې قائداعظم خپل ګوند مسلم ليګ ته صلاح ورکړله چې د هند مسلمانانو دپاره "جدا مملکت"له به يو نوم هسې هم پکار وي نو دغه نوم "پاکستان" سهي. له دې کبله "قرارداد لاهور" په "قرارداد پاکستان" بدل کړے شۀ. هر کله چې د کېمرج د "ذهينو او باشعوره" طالبعلمانو تجويز کړے نوم "پاکستان" عملاً ومنلے شو نو ګويا "پ"، "ا"، "ک"، "س" او "تان" ټول ومنلے شو. ځکه خو الله پاک خپل رالېږلي کتاب قرآن کريم کښې مسلمانانو ته تاکيد کړے دے چې هر چاته په صحيح او پوره نوم اواز کوئ، داسې نوم مۀ ور پورې کوئ چې بنده پرې تزنبږي او خفه کېږي (ولا تنابزو بالالقاب ـ سورت الحجرات)



دغسې د "فلسفې" او "منطق" له رويه دا خبره ښه ځرګنده شوه چې کوم مشران، د پېرنګيانو په اېښودي شوي نوم (شمال مغربي سرحدي صوبه) ټينګار کوي او = افغانيه نۀ مني، دوي په اصل کښې "پاکستان" نۀ مني. يوه بله عجوبه دا هم ده چې "پاکستان" نوم کښې د مسلمانانو د درونډ اکثريت صوبې بنګال (نمرختيز پاکستان (اوسني بنګله دېش) ذکر نشته حالانکې دا د ۱۹٤۷ء نه دسمبر ۱۹۷۱ء پورې د پاکستان نيمه حصه وه، دغه حصه چې ببله شوه يا ببله کړې شوه نو "پاکستان" په معنوي لحاظ هغه د چا خبره "سالم" پاتې شۀ. اوس کۀ زمونږ ځيني ناپوهه يا د اقتدار په نشه مست سياستکاران "الف" (افغانيه) په زور او برناحقه اخوا کول غواړي نو انصاف په تاسو- "پاکستان" به "سالم" او "دائم" څنګه پاتې شي؟



"ما ته کۀ "پښتون" وائي نو "خوا" کښې د څۀ وېره ده!
اے زما وطنه! په وطن کښې لاروے نۀ يم"

(قمر راهي)